## څه ووایم

په ډېره د چنا ر بیا دی نوم نور نه لیکم
کوڅی ته دی په مینه نور هیڅکله نه راځم
وفا دی هیڅ ونکړې شا دی واړوله ما ته
نور چا ته ستا دلاسه ګیلی به نه کوم
ګیلي به له خپل ځانه کړم چي ولی شم دوکه
ګناه ځما خپل دی درپسی به نه ژاړم
د تا پر سر له خپل او خپلوانو بیګا نه شم
تا هم مینه ونکړې «مل» سره څه ووایم
*****

جرمنی 2018-02-21

## مزه کوی

د شونډو په ساغر کی دی شراب مزه کوی
بوسی ستا له شونډو په آب وتاب مزه کوی
عسل ستا د شونډو د نبا ت خواږه کړی هیر
لیده کا ته د مخ ستا بی حجاب مزه کوی
د ستا د سپینو لیچو د بنګړیو خوږ نغمی
هر شرنګ ستا دپا یزیبو بی حساب مزه کوی
خوږی پستي خبری په ادا او کرشمو دی
خلوت کی تاسره سوال وځواب مزه کوی
****

پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
جرمنی 2018-03-01